

# پرېشانه ستوري

شعري ټولګه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ويناوال: احمد جاوېد منګل

# پریشانه ستوري

## شعري ټولګه

لیکوال

احمد جاوید منګل

کال: ۱۳۹۰ هـ ش

## کتاب ځانګړنې

د ټولګې نوم : پرېشانه ستوري

ويناوال : احمد جاوېد منګل

برېښناليک پته: Ahmadjavedmangal@yahoo.com

کمپوزاو ډيزان : احسان الله ساحل (ځدراڼ ) خوست

پښتې ډيزاين : طالب منګل

چاپ شمېر : (۱۰۰۰)

چاپ کال : ۱۳۹۰ (2011)

چاپ وار : لومړی

چاپ ځای : مومند خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه



ترلاسه کولو ځای

عبدالمجيد مومند کتاب پلورنځی ،مخابراتو څلورلارې- جلال اباد .

اړيکې: ۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ _ ۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱

# پرېشانه ستوري

زه تقریباً د لسو (۱۰) کالو ماشوم وم، چې په شعر لیکلو مې پیل وکړ له هاغه وخت څخه تراوسه مې د خدای شمېر غزل، نعتونه، ترانې ....او داسې نور لیکلي دي. کله، چې د لوړو زده کړو له پاره دعوت الجهاد پوهنتون د ساینس فاکولتې ته بریالی شوم نو خدای شته، چې ډېر خوښ وم ځکه، چې له یوې خوا څخه مې د ساینس فاکولته لوستله او له بلې خوا د ادبیاتو د فاکولتې په استادانو به مې خپل شعرونه، ناولونه او لنډې کیسې اصلاح کولې له دې سره، سره د شپږم په ورځ پس له ماسپښین به یو شمېر محصلین سره راټول شو او د ښاغلي حمزه شینواري بنډار ته به مو ځانونه ورسول. حمزه صیب به په ډېره مینه په شعرونو کره کتنې راته کولې په شعر کې به یې نیمګړتیاوو ته متوجه کولو او همدارنګه د پښتنو د غوښتو په اړوند به یې په زړه پورې کیسې راته کولې کله، کله به خوښ ښکارېده خو کله، کله به د پښتون ولس نفاق ډېر خواشینی کاوه نو له همدې کبله مې د دې شعري ټولګې نوم (پرېشانه ستوري) کېښود ځکه چې ستوري مستعار زموږ د ادیبانو او پوهانو دي او پرېشانه د دوي هاغه اندېښنې دي چې د خپل پښتون ملت له پاره یې په خپلو معصومو زړونو کې لري په هر صورت د پوهنتون د دورې له بشپړ کېدو څخه وروسته هېواد کې حالات کړکیچن و نو د اقتصاد د نشتون له کبله کویت هېواد ته مسافر شوم نو هاغه وخت و چې لیکنې د یو څه مودې له پاره رانه وخنډېدې خو کله چې مې د عربو شاعرانو سره ناسته پاسته شوه هغوی یو خل بیا د شعر لیکلو ته وهڅولم او تر ټولو ستره خبره دا چې ویښ او په پښتو مین خوان ښاغلي انجنیر شامحمد داود صیب داټینګر راته ډبولی چې ته لیکنې کوه او چاپ کول یې په ما، دادی دا زما شپږمه شعري ټولګه ده چې د ښاغلي انجنیر شامحمد داوود په مالي لګښت ستاسو تر لاسو نو در رسېده چې له نوموړي څخه په دې برخه کې یوه نړۍ منندوی یم او همدارنګه له ښاغلي هڅاند لیکوال او خوږ ژبي شاعر طالب منګل صیب څخه مننه کوم چې زما شعرونه یې په کراتو مراتو لوستي او د کمپوزر تېروتنې یې راته په ګوته کړي دي او په همدا بڼه په خپل رنګین تخیل او په ښکلو پښتو ګوتویې د کتاب پښتی راته کښلې او ډیزاین کړېده. په پای کې له تاسو لوستونکو څخه مننه کوم چې زما دې کتاب (پرېشانه ستوري) ته مو د لوستلو مطالعې وخت ورکړ. د اوس له پاره همدومره باندې بسنه کوم.

د سلام، پښتو اوګران هېواد افغانستان د غوړېدو په هیله! په درناوي.

احمد جاوېد منګل

# غزل

وینو او سپین کفن به سپکه کیږي
خواوس مې سور، سپین رنګ نۀ کرکه کیږي

څوک خوَښوي جګړه د کور رقیبه!
دا خطاګانې لۀ هلکه کیږي

خپلو لالونو باندې لاس ونیسئ
وایي چې دغۀ ښار کې ورکه کیږي

د سترګو جنګ دې ولید؟ تابه چې وې
جنګ څنګ بې ټورې او کوتکه کیږي

ها دروغجن دوه ګزه ځای نۀ درلود
وې یې زما زر جریبه ځمکه کیږي

شونډو سرو، سترګو تورو وړَی جاوېد
شراب او بنګ ته یې زړۀ ځکه کیږي

PUKHTO.NET
پښتو ځالې نېټ

# پرېشانه ستوري

اوښکې روانې که روانه ستوري
حال دا چې ډېر دي پرېشانه ستوري

مه! دربغه ړوند لکه یعقوب شم پسې
د وخت توپان مې وړي له خوانه ستوري

جار پښتانه د خپل پوه قدر نه کړي
اه! وایه نور زیات دي له چانه ستوري

وخته یا تېر وختونه بیا راوله
یا خو بیا جوړ کړه له انسانه ستوري

دا سرو لېمو کې ګډې وډې اوښکې
مات که شفق کې دي حیرانه ستوري

نوره به څه وي درد دا ستا دی چې یې
ګل، ګل په زړه جوړ له ارمانه ستوري

لا مې د هیلو بڼ کې شته سره ګلان
جاوېده جوړ به کړي له ځانه ستوري

یادونه: پورتنی غزل د بدیع علم د توشیح بڼه لري

# کۀ تۀ يې

وږمه ګل نه شوه روانه او کۀ تۀ يې
ساه مې ووته لۀ ځانه او کۀ تۀ يې

پۀ هر ځای او پۀ هر څۀ کې راته ښکارې
ستا پۀ رنګ بل څوک دي ګرانه او کۀ تۀ يې

هلته لېرې کنډواله د غرۀ لمن کې
لۀ سپوږمۍ شوله روښانه او کۀ تۀ يې

اندېښنې سرې اوبۀ کړي اوښکې څاڅي
دا ګل زيړ شو لۀ بارانه او کۀ تۀ يې

د غم تندر يې د مخ کاسه کړه توره
چې لمر ښکاري پرېشانه او کۀ تۀ يې

ټپ د زړۀ باندې مرهم غوندې لګيږي
دي سپرلي وږمې جانانه او کۀ تۀ يې

ټوله ورځ کې مې تر څنګ و خو تياروکې
سيوری بېل مې شي لۀ خوانه او کۀ تۀ يې

وخت چې يودم شو بدل پۀ جاوېد دا يې
ستوری مات شو لۀ اسمانه او کۀ تۀ يې

# غوښتې نۀ دي

دا وران کنډر مې لۀ ياد ستا نه سېوا غوښتې نۀ دي
دا زړۀ مې غېر لۀ دې رڼا نه رڼا غوښتې نۀ دي

دا کوم انصاف دی هاغه ښکلی بېلوي چې لۀ ما
ما خو هيڅکله ګل لۀ بوټي جدا غوښتې نۀ دي

وايي يو وخت شته چې دعا په کې قبلېږي خدايه !
دا راته وايه ، يار کوم وخت ما لۀ تا غوښتې نۀ دي

راشه منصور پۀ دار ختلی انالحق په نامۀ
د وخت پاچا يې جنازې ته ملا غوښتې نۀ دي

ما سيوری خپل هم دی ليدلی چې جدا شي لۀ ما
سوګند د ټول عمر وصال مې لۀ چا غوښتې نۀ دي

چې پخوانو يارانو پرېښودۀ او لاړ لۀ جاوېد
ژونده !لۀ تا مې بيا اُميد د وفا غوښتې نۀ دي

# پرېشانه يمه

ستا لۀ سپين مخ ستا عاشوقۍ نه پرېشانه يمه
لکه شبنم لۀ لمَر، سيلۍ نه پرېشانه يمه

پرېشاني رانه پۀ يوۀ حالت کې لېرې نۀ شوه
ورځ کې لۀ تا او شپې سپوږمۍ نه پرېشانه يمه

لۀ هاغۀ وخت چې زړۀ تا ونيو او آزاد دې نۀ کړ
لۀ هاغۀ وخت لۀ زندګۍ نه پرېشانه يمه

نظر دې هره ورځ زما مرګ ته نوي لارې ګوري
د خپل قاتل لۀ هوښيارۍ نه پرېشانه يمه

لښکر بانۀ دې راته بلوڅي لړ يې وخوښوه
د پښتنو لۀ دې څوکۍ نه پرېشانه يمه

لۀ تورې شپې نه چې بُګنېږم داسې ښکارې ورځ کې
ستا د اوربل تورې کېږدۍ نه پرېشانه يمه

جاوېد خولۀ بنده کړه، پۀ څۀ ژاړې دا تا به وَيل
زۀ يې خبرو لۀ جَړې نه پرېشانه يمه

PUKHTO.NET

# نن سبا

لکـــه ستوری شپــې تورتم کــې نن سبا
داســې اوسـم دې عــالم کــې نن سبا

خلک موسم په شان بدلیږي پاتــې نهٔ دي
پـهٔ یـوهٔ رنګ او یـوهٔ رقـم کې نن سبا

اوښکــې بیا لهٔ ویره نهٔ راځــي بَهر تهٔ
مــاشومـان پــاتــې پهٔ غم کــې نن سبا

دلتـه پوه قدر څوک نهٔ کړي ناپوهي ده
ګل څوک نــږدي زلفــو خم کــې نن سبا

لکـــه اور دې ابراهیم بــانــدې ګلــزار کــړ
هســې ساته مــې کـــرَم کــې نن سبا

وچو زور نه لمده سوځي لــویه خــدایه!
جــاوېد سوځي د دوي جَــم کې د نن سبا

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# شخړه

کاش راشي کۀ پۀ هوش هرڅۀ ډېران کړۀ دغې شخړې
دا څومره بورې ،ورارې ، يتيمان کړۀ دغې شخړې

کوم ګل لۀ خزان وغوارم کوم ګل ولټومه
ګام،ګام کې رانه ببل ښکلي ياران کړۀ دغې شخړې

چې مونږ وو سره يَو د رقيبانو څۀ جرات وو
خو اوس هاغه ماران را ښاماران کړۀ دغې شخړې

رښا مو شوه تربته ، د لالونو قدر نشته
سرونه لکه تور کاڼي ارزان کړۀ دغې شخړې

بدل،بدل خيالات به بدل وخت کې څۀ بدل کړې
بدل ، بدل مُوسم بدل ګلان کړۀ دغې شخړې

جاوېده ډېر وخت وروسته وخت څۀ وخت د مُسکارا کړ
هاغه هم د ترخو اوښکو جريان کړه دغې شخړې

# زندګي ده

د مينـــې، د وفــا او دوستـۍ جمعه زندګي ده
څو ورځو مېلمـــانۀ يوو څـو قـــدمه زندګي ده

دا خلک څنګ بختوردي علم وکړي ځي سپوږمۍ ته
زمونږ خو بـې کتـــابه بـــې قلمـــه زندګي ده

مـــونږ جنګ لمن نيولـــې د غمونو تخـم شينـدو
بيا وايوو چې خـاوند جوړه لۀ غمـه زندګي ده

د شخړو ضرورت څۀ، ولې ژوند نۀ کړو د سولې
لۀ پـــاره د محبت چـــې هـــم لا کمـــه زندګي ده

کۀ لږ فرصت پيدا کړې خپل ګرېوان ته سر کړه ښکته
چې تۀ ګرم يې کۀ تـا باندې لا ګـــرمه زندګي ده

راځئ ! چې يو تربلــه د وحـدت لاسونه ورکړو
لا وخت شته ورانه نۀ ده لا هم سمه زندګي ده

يوه ورځ به د مرګي پۀ غېږ کې سر کېږدي جاوېده !
هـــوا څپو پۀ منځ کـې بلــه شمعه زنـــدګي ده

# توره شپه کې

چې غلې ، غلې ځي يې تر پالنګ پۀ توره شپه کې
وا !خوري دې تورټوپک او تورو شرنګ پۀ توره شپه کې

زلفان يې ښاماران دي او بانۀ يې تېرې تورې
لۀ داسې بلاګانو کوه څنګ پۀ توره شپه کې

سکته به دې د زړۀ شي تورې سترګې شونډې سرې يې
ډېرمه کوه عادت د شراب ، بنګ پۀ توره شپه کې

PUKHTO.NET

اوبو کې مزل نۀ شي سړی ستړی ساه شي لنډه
پۀ اوښکو ډکو سترګو نۀ شي جنګ پۀ توره شپه کې

د ننګ لمن پرې نږدې ترپ او خرپ د مېړو کاردی
نور پېښې باسه چې نۀ شې کړې غورځنګ پۀ توره شپه کې

ما وې چې زړۀ به وړې درنه ها سترګې قاتلانې
تۀ و خدای نۀ شو دخولې خوند دې د زنګ پۀ توره شپه کې؟

د غرو پۀ لار راغلې جاوېد ګرم نۀ دی هرڅوک
پۀ دومره پښتنو کې وهي رنګ په توره شپه کې

# بَم خوړلی

هسې چُپ یم ستا بېلتون یم سم خوړلی
لکه مړی وي مړستون کې دم خوړلی

چا د یاد تراو لهٔ ژوند سره دی ځکه
سږ کال بیا مې د ژوندون قسم خوړلی

لکه مړاوي کړي ګلان تل باران داسې
اوښکو زما چمن زرغون پهٔ نَم خوړلی

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نېټ

عشق ما نهٔ کړ دا لمر هر کورته ځي خپله
اوس مې ځکه زړهٔ لړمون دې غم خوړلی

دا توپان مې سروګلونو بڼ ډېران کړ
کهٔ د وخت جنګ مې پښتون عالم خوړلی

زلفو کور او پوست بالښت چېرې جاوېده!
ها کېږدۍ هاغه زنګون دی بَم خوړلی

# ورپسې راغلې

څـــهٔ تيـــارې د بېلتـــانـهٔ ورپســـې راغلـــې
لکـــه لـــړې خولـــهٔ پهٔ خولـــهٔ ورپسې راغلې

باک يـې نهٔ و چـې خزان واى لهٔ ګل وړاندې
خـــو زمـــا پهٔ ژونـــدانهٔ ورپســـې راغلې

شفـــق نهٔ دى د اسمـــان لمـــن کـې خلکـــو
کنډک وينـــې مې لهٔ زړهٔ ورپسې راغلې

ستوري مه بولئ سپوږمۍ چې بدرګه کـړي
پښتنـــې دي ورهٔ لـــهٔ ورهٔ ورپســـې راغلـــې

نوم يې مه اخلئ چې بيا به وربځ باران وي
سپينـــې اوښکـــې تر لېمـــهٔ ورپســـې راغلې

خوار جاوېد به کـړي غمونه څهٔ غمجن نور
دې نړۍ خـــو چـې وو څـــهٔ ورپســـې راغلې

PUKHTO.NET

# په غاړه،غاړ

بيا دې څار ته شو ډېـوې په غاړه، غـاړه
اوښکـې سپينـې د لېمـې پـه غـاړه، غـاړه

بخت لۀ وخت سره ملګرى نۀ شـوګرځـم
د تقـديرکـرښـې سپېرې پـه غـاړه ،غـاړه

زړۀ ځـان ستـړى پـه ژړا کـړ د يـادونـو
ورېځــې ستـا يـې تېرېدې پـه غـاړه ، غـاړه

شپې شوې تېرې په دې هيله چې نن شپه به
سپوږمۍ بيا راشي ويالې په غاړه، غاړه

ستا د لاس او د پښو نخښو په طواف يم
حاجيان چورلي د کعبې په غاړه ، غاړه

لۀ غمو سره عادت شوم اوس خواوسم
د غمونو د کوڅې په غاړه ، غاړه

لا دې تنده د وصال په زړۀ مېشته ده
لا دې ګورم دروازې په غاړه ،غاړه

د غم اوښکه مې ښو کې رَپي لکه
وي جنده د مقبرې په غاړه، غاړه

يوځل لپه کړه لاسونه راته شکليه
که را تلې د هديرې په غاړه ، غاړه

زمانې په ژبه ځان پوه کړه جاوېده!
زمانې سره چې ځې په غاړه ، غاړه

# هاغه شان

پهٔ زړهٔ مې د یاد ستا مهرباني ده هاغه شان
غوټۍ پهٔ دا وربمو لا شرابي ده هاغه شان

راځه چې لا تراوسه واورو پته نهٔ ده لاره
راځه چې مې د زړهٔ خونه خالي ده هاغه شان

سپوږمۍ او ستوري شته، وږمې، نغمې لا شته دې ښارکې
يو تهٔ نهٔ يې بس ستا پهٔ کې کمي ده هاغه شان

PUKHTO.NET

تر اوسه دې لار څارم او تر اوسه يم پهٔ طمعه
تر اوسه لا ولاړه زندگي ده هاغه شان

کاغذ لمده ټوټه شوم چا د سوَنګ او د ليک نهٔ يم
ستا خيال لا هاغه شان او بې وَسي ده هاغه شان

کهٔ کب دې وي ليدلای لهٔ اوبو غير چې تړپيږي
غير ستا مې زندگي کې بې خوندي ده هاغه شان

جاوېده لال ايرو کې نهٔ پټيږي نقد يې څهٔ کړم
روانه مې ښه دَم کې شاعري ده هاغه شان

# مالومېدي

وي لېږي ، ياد پۀ مې زړۀ ته نږدې مالومېدي
بېلتون کې د وصال غوندې کيسې مالومېدي

ځوانۍ کې د ورېمې په ځېر لۀ ګل کورشوې بې کوره
ها ورځې د سپرلي وي خو سپېرې مالومېدي

بدلۀ زمانه شوه ددې غم څوک کړي خو ژونده
دا تۀ ولې بدله شپې لۀ شپې مالومېدي

کۀ زما هاغو خبرو ژړولې بېرته راشه
چې تۀ به پرې بې واکه خندېدې مالومېدي

غېريارلۀ نوم بل نوم ته هيڅ ځای نۀ شته دې کنډرکې
دا څو توري يې زړۀ پۀ دروازې مالومېدي

دا نن چې د سهار نسيم يرغل کاوه په زړونو
سپرلي ورېمو کې پټه ، پټه تلې مالومېدي

جاوېده لکه ورو ، ورو مې لۀ لاسه څخه درومي
هاغه چې مې پۀ لاس کې زمانې مالومېدي

PUKHTO.NET
پښتو پراډبيات

# ژوندی

پهٔ خيال ستا د سپين مخ زلفو کېږدی سره ژوندی
بېګا مې شپه ده تېره لهٔ سپوږمی سره ژوندی

ما کوم لفظ په وَيلو چې ځان سترې کړ خو هاغهٔ
را ووې د يوهٔ ګل لهٔ سرې غوټـــی سره ژوندی

دغم ورېځې دې راغلې چې لهٔ سترګو اوښکې ځاځي
ترځو به ورځې، شپې ورم دې جرې سره ژوندی

نور ټول خلک بيدهٔ دي خو يوه کړکی ده خلاصه
درنده شپه مې سبا کــړه دې کړکی سره ژوندی

د تللو واله ولــې نهٔ پوهيږي، تش پهٔ ياد هم
چې نهٔ شي ګُذاره لهٔ زندګی سره ژوندی

يوځلې ځان وَيلو يــې جاوېد لهٔ ځانه تېر کړ
هرڅهٔ يــې لولپه شول يوې سپرغی سره ژوندی

# زما څوک پاتې دي

ماهرڅۀ لوټ کړۀ ستا یارۍ کې زما څوک پاتې دي
غېر لۀ تادا رنګه نیستۍ کې زما څوک پاتې دي

تۀ وايې زما نامه وانخلې چې رسوا به شمه
زۀ وایم نور نو پۀ نړۍ کې زما څوک پاتې دي

بیا مې د زړۀ زاړۀ ټپونو خولګۍ پرانېستلې
بیا چې پۀ تالنده سیلۍ کې زما څوک پاتې دي

دا چې مې روح لۀ عزرایل سره پۀ شخړه کیوت
دامې د ژوند وروستۍ سلګۍ کې زما څوک پاتې دي

زړۀ مې دې ښکلو هېوادو کې هم وطن یادوي
خدا چې د خوست د غرو پۀ ژۍ کې زما څوک پاتې دي

دا ستا ښکلا، پښتو او مینه بس جاوېد یادوم
نور نو غزل او شاعرۍ کې زما څوک پاتې دي

# ساتلې

چې مې داستا نادان څېره ساتلې
لا مې د مات ارمان شېبه ساتلې

ما يې هر پَل تهٔ چې ګلان غوړَوَل
ګل پهٔ دې ټول شان آیتوبه ساتلې

چې وي خفه لا ښايسته ښکارېږي
ما پهٔ دې سوچ لهٔ ځان خفه ساتلې

زموږ پهٔ وصال رقيب نا خوښ ښکارېدهٔ
زموږ پهٔ اختر شيطان روژه ساتلې

هاغه کړئ پوه چې خپل نوم نهٔ وړي لهٔ ما
زړهٔ خو ګران شی د ګران نامه ساتلې

دا پهٔ وصال کې دی خفه جاوېد يا
چا پهٔ سپرلي خزان څپه ساتلې

---

آی توبه : منکر او سوګند ته چمتو



PUKHTO.NET
پښتو کتاب نېټ

# اوس

دې ګل په پاڼه څاڅکي د شبنم اوسېږي اوس
که سترګوکې مې اوښکې د ماتم اوسېږي اوس

بېلتون، غم، اندېښنوکې به ژوند ګران وي خو يو څوک
په دومره بلاګانو کې ښه سم اوسېږي اوس

د يار له هجره وروسته نورخو هرڅه روغ او سم دي
خو چېرې چې زړګی و هلته غم اوسېږي اوس

PUKHTO.NET

نن يو کال بل هم تېر شو له اشنا ځينې بې غير
خو زړهٔ کې مې د نن غوندې لا هم اوسېږي اوس

منم چې هاغه لاړ خو له دې لطف يې مننه
يادونه يې محفل کې يو عالم اوسېږي اوس

څوک وايي چې له څهٔ وخت بېلتانهٔ مينه زياتېږي
جاوېد به داسې وې خو خلکو ګرم اوسېږي اوس

# بَلاً ښکلي

خبر کړئ لږ منصور چې ځي تر داره بلا ښکلي
لا اوس هم پهٔ جذبو پالي ستا لاره بلا ښکلي

لا اوس هم لهٔ صحرا ستا د محفل پهٔ هيله ، هيله
لا اوس هم در روان دي ستا تر ښاره بلا ښکلي

لااوس هم ستا سجدې پهٔ ځای سجده کړي اوښکې توی کړي
لا اوس هم يادوي دې ډېر بې شماره بلا ښکلي

لا اوس دې هم پهٔ شمعې زرزرين پتنګان سوځي
لا اوس دې هم ځارېږي لهٔ رخساره بلا ښکلي

لا اوس هم د (کاروان) د غزل توري پهٔ تا وياړي
لا اوس هم يادوي دې دنګ چناره بلا ښکلي

لا اوس دې هم د سترګو لهٔ هندارو الهام اخلي
لا اوس دې هم غوړېږي لهٔ بنډاره بلا ښکلي

دا ستا د ديدار تږی يو جاوېد منګل خو نهٔ دی
اې ښکليه ! ستا ديدار ته انتظاره بلا ښکلي

کاروان : زموږ لويه هستي ښاغلي پيرمحمد کاروان صېب.

# شي روان

یاران مې پرېږدي غم کې غم شپېو کې شي روان
مرغان لکه لۀ بڼ لمر پرېوتو کې شي روان

که داسې ستا لۀ غم تل په ژړا،ژړا زړګی وي
اخېر به دا ګل هم باران اوبو کې شي روان

کېږدۍ راوړي دېره راته په زړۀ وي تولـه شپه
یادونه کوچیانې یې په سپېدو کې شي روان

PUKHTO.NET
پښتو کتابتون

لوی قام د پښتانۀ شو داسې بې لښکرو لکه
څپاند سین شي آرام اوبې څپو کې شي روان

په دې خاموشه قام کې داسې ډارمې زړګي واخیست
یو ګوښې لاروَی لکه په غرو کې شي روان

جاوېده ! دا مې هیڅکله په خواخاطر کې نۀ
وه چې داسې ځان ،ځاني به پښتنو کې شي روان

# ناست

زۀ چېرې رقيبان بَرَه ځيګـــر کې ورتـه ناست
لس، سل نۀ دي خدايږو چې يو لښکرکې ورتـه ناست

د رَد کـرښه راکاږي پـۀ کعبې زړۀ مې خاونده
نن بيا د ابرهـه پوځيـان يې دَر کې ورتـه ناست

پۀ غېروکش کوي مې او لا شک يې هاغـه شان دی
لا هسې نندارچيان پۀ لر او بَر کې ورتـه ناست

کړي پټ يې مخ لۀ ما د زلفو خم کې يې غـرور دی
نن بيا يې غرني پيريـان پۀ سر کې ورتـه ناست

ټک يار خوګټ لۀ پښو د سرې باسي غورځوي يې
ټکان دي هريوۀ ګټ او هـر کمر کې ورتـه ناست

ټک زړۀ مې پسې چوي کټ تابوت شوکۀ راځي يـار
جاوېد يې لاره څاري شپه او لمر کې ورتـه ناست

يادونه: پورتنی غزل د علم بديع د قالب کل بڼه لري د بېلګې په بڼه ۱: لس ،سل چې سر چپه شي لۀ سل نه لس او د لس نه سل جوړيږي همدارنګه په نورو بيتو کې يې بېلګې په لاندې ډول دي ۲: رد او در . ۳: شک او کش . ٤: مخ او خم. ٥: ټک او ګټ ٦: ټک او کټ.

# غزل

ورځ، ورځ یو نوَی ټپ ګوري ښېرا يې د ژوند زده
مرهم نۀ شول د یوۀ بل نۀ دعـا يې د ژوند زده

چې کله ټوپک هسک کړي نښه وولي پښتون زوی
دوی وايي خـرۀ لۀ پښو ووت دُنيا يې د ژوند زده

لا اوس هم جنګ،جګړې خبرې اورم لـۀ هر کـوره
لا اوس هـم د خندا پۀ ځای ژړا يې د ژونـد زده

لۀ مورږ یوالی هېر مینـه ، دوستـي ، وفـا مو هېره
نـور خلک څۀ بختـور دي دا آدا يې د ژوند زده

د طـور شمعـــې پـرې ورحمه زمـوږه پتنګانو
دا اوس،اوس الوتـۀ زده څۀ هـوا يې د ژونـد زده

نور څۀ يې لۀ دې ډېر زده دي آداب ستا د محفل
هاغۀ به کړي جاوېد چې څۀ لـۀ ستايې د ژونـد زده

طور: د کوه طور څخه مراد دی، چې موسا ع به د رب ملاقات هلته کاوه.

# څۀ پۀ کار

چې شمع مړه شي بيا محفل کې انتظار څۀ پۀ کار
چې زړګی نۀ لرمـلۀ درد او غم دی ډار څۀ پۀ کار

ما به يو وخت پۀ ډېر غرور وې چې زړۀ زۀ هم لرم
هاغه کورهم اوس چا نيولی لۀ ما خوار څۀ پۀ کار

د چـا د ياد پۀ موسمونو کې خندا ، ژړا کـړم
د وخت سپرلي او پۀ خزان باندې مې کار څۀ پۀ کار

د رڼـا دلته ده اړتيا خـو سپوږمۍ هلته خپرې
نورنو پۀ حُسن او ښکلا يې افتخار څۀ پۀ کار

ځـان پۀ ما وينې خـو نيولو تـه ځان نۀ راکوې
رڼو اوبو پۀ مخ انځور غوندې رخسار څۀ پۀ کار

دی چې موسم پۀ شان بدليږي زۀ چنـار ولاړ يم
هسې جاوېد بې ياره ښۀ يم داسې يار څۀ پۀ کار

PUKHTO.NET
پښتو ڪتاب ټپ

# غم دې وروا خلي

غم دې وروا خلي زړهٔ مې زور د يوې شېبې نهٔ لري
نور د ساتلو توان د دغې خزانې نهٔ لري

ستاپهٔ محفل څوک اعتراض کوي ساقي لا ليه !
د تقدير ليکې مې نصيب د پيمانې نهٔ لري

اوس مې داژوند دی پهٔ لېمه ولاړې اوښکې غوندې
اوس ستا د وِصل اوبيلتون خوږې ، ترخې نهٔ لري

PUKHTO.NET
پښتو کتاب تون

خلک ننداري ته دي ولاړ زهٔ لهٔ دې غلی شمه
اشنا لا وايي چې لهٔ ما ځينې ګيلې نهٔ لري

ژوند لکه شمع ده رڼا هوا څپو پهٔ منځ کې
کومه څپه به يې کړي مړه رحم څپې نهٔ لري

غم دی ددې چې يو چا خپل کړم بيايې پرېښودمه
غم ددې نهٔ دی چې جاوېد هيڅوک نږدې نهٔ لري

# مخ

تصوير ستا مې دی نيولی زړۀ البوم مخ
نو څنګ وباسم لۀ زړۀ نه ستا معصوم مخ

اوس سپوږمۍ مخ ګلابي سترګې مې تتې
اوس مې پاتې دی جانانه بس پۀ نوم مخ

د خوښۍ يو قدم ځای مې پيدا نۀ کړ
سپينو اوښکو ځکه ونيو پۀ هُجوم مخ

PUKHTO.NET

خلک زما د ماتېدو پۀ انتظار خو
د در خاورې دې لا شيندم پۀ مظلوم مخ

بې پردې مې ډېر مخونه کړۀ ستا عشق کې
خو ستا حُسن مې پيدا نۀ کړ پۀ کوم مخ

وې سپرلی نۀ راځي ستا پۀ وران ګودر بيا
رقيبانو دی کتلی د نجوم مخ

دا ديدار دِ ګران چې ګران شو ډېر جاوېده
خدا ! نن بيا مې دی ليدلی د کوم شوم مخ

# غزل

یو دا عمر بل هاچې، خندېدو تر دروازې
دا شپه به کله رسي، د سپېدو تر دروازې

بیلتون کله نا کله زیاتوي مینه جانانه
هاغۀ ووې داشان په رسېدو تر دروازې

ما وې چې یامې پرېږده یا مې مات کړه هاغۀ ووې
ما پرېښوې خپله رسې ماتېدو تر دروازې

باک نۀ شته لۀ بېلتون کۀ یې ځورېږم خو خلک وایي
هاغۀ هم رسېدلی ځورېدو تر دروازې

پۀ لاره به توبه وي، ساقي را شاید تر اوسه
لا نوي رسېدلې قبلېدو تر دروازې

ګل بوټي نه چې ببل شي مړاوۍ کیږي او رژیږي
جاوېد هم رسېدلی مړاوېدو تر دروازې

# غزل

څوک ورځو او څوک یُوسي څو ګهـړیو ترنم
خـو ځنـې ، ځنـې یوسـي د پېـړیو ترنم

چې زړۀ ته څوک ډېرګران وي د هاغۀ زخم هم ګران وي
ګنـي داسـې خو ډېـر وړي د مرګيـو تـرنم

دا تا به هم تل ما پۀ څېر ثنا کـړله پۀ اوښکو
اې کاش ! چې اورېـدای دې د سلګيو ترنم

یو هاوخت و چې هرکور د پښتون کې خوشالي وه
یو دا وخت دی چې خـبرې تـرې زګېرویو ترنم

اې وختـه مورِه دومـره خو هم نۀ یوو سزاوار !
چـې تـل به مـو ابېـرې وړي د ګلیو ترنم

د هیلو سیوري لاندې جاوېد وخت سره روان شوم
نـور لېـرې ، لېرې نـۀ ښکاري ژنکيو ترنم

ژنکیو : ځوانانو
ابېرې: فصلونه ، کرونده

# لاس يوسئ

پلار نيکهٔ خپلواک ميډال سره لاس يوسئ
پښتنو د يوهٔ بل حال سره لاس يوسئ

يو تر بل د پيوستون منګولې ورکړئ
خونړی راغلی کال سره لاس يوسئ

دا ځپې ، ځپې توپان يې ترې يوُنهٔ سي
پښتنې ناوې لهٔ شال سره لاس يوسئ

PUKHTO.NET

ورانوي يې تاريخي ځلور برجونه
د زَړې کلا ديوال سره لاس يوسئ

ميوندې ټيک يې لهٔ ټندې ښويدلای
ملالۍ پېغلې لهٔ خال سره لاس يوسئ

ټکی کېږدئ خپل منځي جنګ ته جاوېده
شپه چې وچوي لهٔ بلال سره لاس يوسئ

# غزل

بېګا شمعې سېلۍ سره ډغرې وې پخې
يو زۀ او بل د چا د غم لښکرې وې پخې

د تورې شپې په غېږکې ځلېده مياشت نه خطا شوم
په نيم مخ يې خپرې زلفو څپرې وې پخې

لا کرښه کې يې ناست يم نۀ سپرلی شوم نۀ خزان
ماهر د موسمو زما ، څۀ منترې وې پخې

PUKHTO.NET

دا زړۀ به بيا زړۀ نۀ کړې الماسي ښو وهلی
هنداره ريزمريز شوه ها خنجرې وې پخې

خبر زۀ به بې وفاوم نو تا ولې داسې پرېښوم
خو تا به د وفا ټينګې سنګرې وې پخې

وفا د هاغو شپو او ورځو کار و خوار جاوېده
کورونه چې کچه وو خو خبرې وې پخې

# لاړشي

د زړهٔ کرار مې يې کرار به مې کراره لاړشي
کهٔ ستا مَين چېرې دا ستا لهٔ سپين رخساره لاړشي

تهٔ د وربمې غوندې هواکې رنګېداى شې تلاى شې
موضوع د ګل دى چې دا ګل به چېرې ياره لاړشي

زما پهٔ بدن کې د شمځۍ پهٔ رنګ اهميت لري تهٔ
غېرلهٔ شمځۍ به خوارصورت ځنګه پهٔ لاره لاړشي

لهٔ هريو ښکلي نه يې ښکلي رب يې جوړ پهٔ هُنر
دا هم لوى وياړ دى ستا پهٔ عشق کهٔ څوک تر داره لاړشي

زهٔ هم ستا مړ ځوان يم وصال شپې راته رنګ راکړه رنګ
چې مې خوشبو لهٔ هريوهٔ توري او ګفتاره لاړشي

هاغه د مينې وريښمين وخت کهٔ بېرته راولې بيا
وخته جاوېد لهٔ ويرانو چې لږ تر ښاره لاړشي

PUKHTO.NET

## مَین

مَین په اوښکو تل لېمه زرینه کړې که نه
لکه پتنګ په سرو لمبو یې مړینه کړې که نه
نړۍ له مینې ده پیدا ، رب ماتو زړو کې اوسي
د بدن خټه دې په عشق مالګینه کړې که نه
خونې کچه ژمنې پخې وې هاغو خلکو په شان
تا هم دا ښکلې شپه او ورځ ازغینه کړې که نه
زړۀ څړیکې وکړې لکه بیا وشلېد ګنډلې پرهار
یو چا چې وپوښتل چې تا هم مینه کړې که نه
منافقت له جاوېد ځکه زړۀ خبر کې نۀ شي
عشق لېونو د زړۀ خبر تل سپینه کړې که نه

## غزل

خوښې مې نۀ کړله حېساره تېره
رښا خدا څنګ شوه په تلواره تېره
ما وې چې یاد یې نور تر زړۀ نۀ پرېږدم
دا چا ډېوه کړه تر مزاره تېره
وایي چې شپې پسې رښا راځي خو
غم یې په ما کړه سمه لاره تېره
لکه په قبر ګل وي شین داسې زۀ
اوسم صحرا کې شوه له ښاره تېره
هاغۀ وې خوب کې بۀ درځم ، ټوله شپه
جاوېد خوښې نه کړه بېداره تېره

# غزل

زما لـــهٔ فطرت نه دا کـــار ډېر خوښېږي
لـــهٔ بې ننګـــۍ نـه مې دار ډېر خوښېږي

دا چې لېمو سترګـــو کـــې اوښکـــې ساتم
وايـــي چـــې ستوري د يـــار ډېر خوښېږي

ژوند که ګرمي وه تهٔ يو دروند سيوری وې
لـهٔ دې سبب مـــې چنـــار ډېر خوښېږي

وايـــي تکـــرار وَيل بـــې خونـــده وي خو
ستا د هـــر لفظ مـــې تکـــرار ډېرخوښېږي

چـــې د ببلتـــون اور تـــه لمنـــې وهـــي
لـــهٔ دې نشـــې مـــې خمـــار ډېرخوښېږي

پاک نشته سترګـــو تـــه به يـــې والـــوزمـــه
ځـــان مې د خـــاورو غبـــار ډېر خوښېږي

ځنـــې جـــاوېد باندې غُصه لهٔ دې چې
ښکلـــو يـــې ولـــې اشعـــار ډېرخوښېږي

# غزل

زما غوړېدو وخت کې هاغۀ مې سوزېدا غوښتله
ځکه سپرلي کې يې د سوړ ژمي هــوا غوښتله

نن همدا زړۀ دی چې لۀ ژونده مرګی غوره بولي
ها دغه زړۀ و چې لۀ مرګ ځينې پنا غوښتله

دربغه چې راشي ما لۀ ځانه ځخه تېر ووينې
هاغۀ ارمـــان و همدا ښه يې د ما غوښتله

ښۀ پوهېــدۀ چې مرګــی ما لره سکون راکوي
ها ستمګــر راتــه د لا ژوندون دعــا غوښتله

اکثـــره وايي چې خوښي خپله د غم ځبره ده
زړۀ لۀ همدې سبب خوښي کې هم ژړا غوښتله

جاوېده ها شبېه د هاغۀ ښــۀ پۀ ياد هم نۀ وه
نادان زړګي کومه لۀ ما چې پۀ بيا ، بيا غوښتله

# درد پرېږم

مَین دې کړم بیا دې کړم هېر درد پرېږم
هوا کې بل څراغ پهٔ څېر درد پرېږم

بیا لکه نوې هوا وچلېده
بیا نوَی درد زړهٔ کړ کوشېر درد پرېږم

خبر یې درد سره عادت شومه اوس
کله چې درد نهٔ وي نو ډېر درد پرېږم

دا چې سوروالی مې لهٔ سترګو نهٔ ځي
دا پهٔ یادو کې ستا بې شمېر درد پرېږم

لهٔ ستا خو یوه خبره نهٔ جوړېږي
زهٔ به لهٔ ځانه شمه تېر درد پرېږم

وخت به راځي جاوېده خېر دی که اوس
خزان څپې کړي لته پېر درد پرېږم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# غزل

راته نن چې ستا د مينې تور پيدا شو
د ژوندون اُمېد مې لږ څه نور پيدا شو

ګل غوټۍ چې ورته خاندي په سرو شونډو
د بُلبل نغمو کې ځکه شور پيدا شو

بيا به تا په سرو منګولو کې وي هسکې
مړو اوبو کې چې دا دومره زور پيدا شو

چې ټول عُمر مې شو تېر په مړ کولو
يوې سپرغۍ نه زړه کې دا رنګ اور پيدا شو

نيم ايمان به يې کامل شي لويه ربه !
شکر، شکر پوروړي پور پيدا شو

لارې ډېرې وې حيران صحرا کې پروت و
خوار جاوېد ته اوس د خونې لور پيدا شو

# څوک ګوري

د مجنــون تنګسو ، حېســارو ته څوک ګوري
زما د ژونـد شپېـو نا چــارو ته څوک ګوري

دا سپین ستوري دی کنــډو کې لارې څاري
که په څار ناست د ستا لارو ته څوک ګــوري

ستا یادونه د ورمـــې په څېر پټ شته کــې
ګنـــې بــارو او دې ګـارو ته څوک ګوري

په ښو یــې ستــوري ځـل کا راشه غېر ستا
نور یـــې د وو سترګو خمارو ته څوک ګوري

زلزلـې غـــوندې ناڅـاپه به مـرګ راشـې
عشق کې جګ ، ټیټ او آوارو ته څوک ګوري

ستا په سترګو کې تصویر خپل جاوېد ګوري
ګنـــې هســې نو هنـــدارو ته څوک ګوري

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# شپه ده

غېر لۀ تا ياره ژوندون څۀ دی خو اجل ته شپه ده
بارانه مه ورېږه پاتې لا منزل ته شپه ده

دلته هم ستوري دي راخاندي هلته هم ځليږي
پوهېږم نه چې دا ستا دلته ده کۀ هلته شپه ده

پۀ ظاهري ښه به ښکلی وي بشر دی رقيب
خو د هندو غوندې لوبدلې يې ګوګل ته شپه ده

نن يې توري زروړک پرې لکه ستوري ځل کا
خدايږو حيرانه دې په سترګو تور کجل ته شپه ده

هر ځلې داځل، داځل وايې ستا داځل رانغی
شپې مې رڼا کړې چې بس تېره شوه داځل ته شپه ده

ناقد دې نۀ خوځوي توري چې زړګی مې خوځي
جاوېده ماخوار رڼا کړې دې غزل ته شپه ده

# دا ډېرې ورځې

چې يې نشته تلۀ راتلۀ دا ډېرې ورځې
نرَی درز مې کړی زړۀ دا ډېرې ورځې

کوږ پۀ ملاسور، شين او زېړ د يارلۀ غم شوم
بوډی ټال غوندې يم زۀ دا ډېرې ورځې

نۀ ژوند شته دی نۀ مرګ راغی پروت مړژوند يم
نۀ د کور يم نۀ د غرۀ دا ډېرې ورځې

بې وَسي ده نور نو څۀ شته غير لۀ اوښکو
پرېږده تويې يې کړم ښۀ دا ډېرې ورځې

باور وکړئ زړۀ پۀ وينو يې پالمه
چا يادونو مېلمانۀ دا ډېرې ورځې

ستا پۀ رنګ نور څوک جاوېده دي کۀ تۀ يې
راته ښکارې په هر څۀ دا ډېرې ورځې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# بې ژبې دی

ګل که لۀ ورېمې سپوا بې ژبې دی
ژوند مې داسې غېر لۀ تا بې ژبې دی

یوې اوښکې یې کړو عالم خبر پۀ ما
چاوې ! دا ظالم زړۀ لا بې ژبې دی

څنګ ممکن چې زړۀ سوزي فریاد نۀ وي
ګټې هم اور کې چاودېږي ها بې ژبې دی

روح لۀ تَن ، نۀ باسي عزرایل غوندې
اوس مې سترګو نور اشنا بې ژبې دی

ژبۀ لري ، خولۀ لري او خوري جاوېد
ها لا وایي غم ، درد زما بې ژبې دی

# وروسته

خلک وايي ګټه کېږي له تاوانه څخه وروسته
خلک وايي چې خوښي راځي خفګانه څخه وروسته

راځه چې لا تروسه هم بدل نه دی موسم
راځه چې ژوند ونه وځي له امکانه څخه وروسته

بېلتون څپو زبېږ نه کړم زه لاهسې روغ، رمټ يم
څه ونې زرغونې وي له خزانه څخه وروسته

وې سترګې دې تازه دي څه خبر دا بې خبره
چې هر څه تازه ښکاري له بارانه څخه وروسته

چمبه، منګی راواخلئ خوار زاهد په دې پوه نه دی
يو نيم ځل تېپه کېږئ ياقربانه څخه وروسته

هاغه مې حال پوښتي خو هاغه مخ کې جوړ ګونګی شم
بلبل په څېر غږېږم له جانانه څخه وروسته

جاوېد يې په اول سرکې لا لوټ کړ خو خلک وايي
چې مينه جوړ مجنون کړي له انسانه څخه وروسته

# راغلې

سپينه خبره مې لهٔ زړهٔ راغلې
کهٔ سپينه اوښکه تر لېمهٔ راغلې

سپرلی راغلی نه خطا شوم دا خو
رنګين لمنه پهٔ کوڅهٔ راغلې

دا چې حيا، ننګ او پښتو خوښوي
دا شوه مالومه چې لهٔ غرهٔ راغلې

PUKHTO.NET

څڼو کنډک يې پهٔ نيم مخ پروت لکه
تهٔ وا ! سپوږمۍ پهٔ راخاتهٔ راغلې

د اسوېلو لمبې کړه بند پهٔ شونډو
وايي ښکلا بيا پهٔ راتلهٔ راغلې

درېغه غږ وکړي چې تورتم نابود شو
سپينه رڼا جاوېد تر ورهٔ راغلې

# کومه شپه

مات به د غم کړې تور لښکر کومه شپه
سپوږمۍ را خبرې چې په غر کومه شپه

په ياد دې تل ، تل اوښکې زړۀ لۀ تل شي
چې شم تنها لکه قمر کومه شپه

بيا به رانۀ شي د عيد مياشتې ماښام
بيا به ماښام نۀ شي اختر کومه شپه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

لۀ چار نا چاره بنده پروت ببلتون کې
کړه مې خپلواک لۀ دې محشر کومه شپه

کار کې د زړۀ منافقت څۀ په کار
وايه ما خوشې دی سنګر کومه شپه

ياد کې به ستا داسې جاوېد وي لکه
پاتې شي خلاص لۀ چا کور وَر کومه شپه

# پهٔ لوی لاس

دا زړهٔ چې مې ورکړَی عاشوقي ته پهٔ لوی لاس
تیلی مې دی وهلـی زندګـي ته پهٔ لوی لاس

سپوږمی پهٔ مخ توروالی ستا اوربل او پهٔ مخ سترګې
چې تهٔ نهٔ وې راوځم ماښامـي ته پهٔ لوی لاس

عشق ماکړَی دې وخت کې دا څراغ ما رڼا کـړَی
د وخت دغـو سیلیو ټُوپانـي ته پهٔ لوی لاس

داوخت دی چې پهٔ دوست هم بې باوره یم پهٔ زړهٔ کې
ها وخت و چې خندل مې هر سړي ته پهٔ لـوی لاس

بېلتون پهٔ لار چې تللـي هاغه بیا نهٔ دي راغلي
لمن مهٔ وَهـه داسې جدایـي ته پهٔ لوی لاس

څهٔ خلکـو څهٔ کینه وه او څهٔ خلکـو وه څهٔ مینه
دا څهٔ، څهٔ جاوېد څهٔ اړ شاعري ته پهٔ لوی لاس

# غزل

وني ستا مينه را ژباړي وي ولاړې
سيورى خپور کله يې نغاړي وي ولاړې

تهٔ جفا کړه ددې غم څوک کړي څهٔ خلک خو
پهٔ وفاوو خپلو ژاړي وي ولاړې

هيش پيش پاتې ستا غمونه يې خوري داسې
څهٔ غرڅې چې پړانګان داړي وي ولاړې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

کاش نمين شي ولې، ولې، ښکلې ولې
چې زړګي ولې پرې وياړي وي ولاړې

د سپرلي وربخ هم نظر هاغه لور نهٔ کړي
چې تنها وني يې غواړي وي ولاړې

داسې مړينه لهٔ خدايه غواړمه جاوېد چې
زرغونې مې لحد غاړې وي ولاړې

# غزل

آه ! ژوند به مې تېرېږي لۀ ياد ستا سره کۀ څنګه
دا ګل به پاڼې ، پاڼې شي هوا سره کۀ څنګه

چې سترګې ولې ژاړي زما پۀ حال باندې تل ربه !؟
ورانيږي د تقـــدير ليکــــې ژړا سره کۀ څنګه

ها ونه لکه بيا لۀ ميوې ډکه ده چې هــريو
ولاړ کاڼي پۀ لاس ورته لۀ خوا سره کۀ څنګه

کېدای شي دلاس کرښو کې دې پټ وي تۀ خو يوځل
تقــدير ليکونکـی وپوښته دعا سره کۀ څنګه

دمرګ لۀ خبر وروسته مې هاغۀ وې ښۀ شو مړ شو
همېش به ځـورېدۀ پۀ هاغۀ ، دا سره کۀ څنګه

کرار ، کرار به هېر شم د نړۍ لۀ زړۀ جــاوېده !
وفـا پۀ ځېر به پاتــې وم دنيـا سره کۀ څنګه

PUKHTO.NET
پښتو کلتوري ټولنه

# غزل

شنهٔ اسمان سپوږمۍ چې خفه ولې یې
زما د ژوند ښادي چې خفه ولې یې

نهٔ وي مهربان فاصلې لنډې کړه
وخت هره ګړۍ چې خفه ولې یې

ټول یم خساره کهٔ تهٔ ترې منفي شې
یار ! لهٔ زندګۍ چې خفه ولې یې

PUKHTO.NET

ووایه ! څلوصه ځواب څهٔ ورکړم؟
پوښتي مې نړۍ چې خفه ولې یې

مرګ لهٔ مینې ښه دی دامې ولیکئ
قبر په تبۍ چې خفه ولې یې

ځای دې پهٔ نړۍ نهٔ و مرګي درکړه
ځان له یوه ماڼۍ چې خفه ولې یې

اوس جاوېد دنیا لهٔ غم بې غمه شو
باد وي که سیلۍ چې خفه ولې یې

# سوال ځواب

ماوې لکه ورېځ به ووارېږم چې ځې دا رنګه
دې وې تل ورېږه کاش رېښتيا هم چې شې دا رنګه

وې مې څنګه جوړه لۀ سپوږمۍ شي مياشت راوښيه
دې پۀ نيم مخ زلفې کړې خپرې او وېوې دارنګه

ماوې دا دوو سترګو ته دې څرنګ نامه کېږدمه
دې وې لکه ښکاري مستو ميوو پيالې دارنګه

ماوې رسوا کېږي څوک پۀ مينه کې پۀ څۀ ډول
وېواهه ټټر وې چې دا تۀ چې څۀ کړې دا رنګه

ماوې يوه شپه لکه سپوږمۍ تر خپل جاوېد راشه
دې وې نۀ راوځي پښتنې خو د شپې دا رنګه

PUKHTO.NET

# پښتو پَلُون

دا سرې نمجنې سترګې غواړي ستا د پښتو پَلونه
که تاندې غوټۍ څاري د ړښا د پښتو پَلونه

کفس کې بندي زۀ او تورو ورېځو کې برېښنا ده
څۀ هيلو په لور اخلوو يوځل بيا د پښتوپَلونه

رقيب لکه د ستورو جامې واغوستې بېګامې
ليدۀ د عشق محفل کې د بلا د پښتوپَلو نه

غمازکه څو ځواکمن شي خپل هدف ته به رسېږم
نړۍ په ډېرو غرونو شته زما د پښتو پلونه

محبت په مزارونو لړ نظر کوه سپرليه
د ستورو په درشل لړ ړده اشنا د پښتو پلونه

تصويرد جاوېد زما سترګوکې اوسي لکه څوک چې
اوسيږي اوبو کور کې ړدي هر خوا د پښتوپلونه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# غزل

ډېر پهٔ اخلاص دې وخت راوړې دا پیالۍ وشمېره
د زهرو جام دې تېروم یې لهٔ مرۍ وشمېره

تا هېروم ستا هېرېدو کې به څهٔ وخت لګېږي
همدا څهٔ وخت دِ ما د سترې زندګۍ وشمېره

که تهٔ مې وپوښتې د غم چې اشنا ستا څهٔ غم دی
بیابه څهٔ غم وای زما د زړهٔ په سرې غوټۍ وشمېره

لهٔ زړهٔ نه یار ستا د وېستلو پهٔ کوښښ، کوښښ کې
لهٔ زړهٔ مې ووېستله خدایګو دا نړۍ وشمېره

دا توره شپه سپینه سپوږمۍاو زړهٔ راښکونکي ستوري
د یار خالونه ، ښکلی مخ ، زلفو کېږدۍ وشمېره

سوچ ،فکر وران کړي خوار قسمت مې سوچ ته نهٔ پرېږدي یار
لکه توپان چې ورانوي تال د بوډۍ وشمېره

هاغه لا وایي چې جاوېد به وفا وکړې او زهٔ
لهٔ هر حَد تېر کړمه ددې ، دې عاشقۍ وشمېره

# پرېشانه

نن بیا د چا وصال ته زړګـــی ښوري پرېـــشانه
نن بیا یـــې غم او درد یم لۀ هر لوري پرېشـــانه

مودې د بې وفا وشوې چـــې لاړ او بیارانغـــی
خو زړۀ کمبخت یې اوس هم لاره ګوري پـرېشـــانه

هاغه کړئ لړ خبر چې تش پۀ یاد ګذاره نـۀ شي
یو څوک دې محبت کـې مړژوند ښوري پرېشانه

یو څوک دې تلاوت کـړي د نامې پۀ سپینو اوښکو
ستا څار کې یې رڼا پۀ لـېمـو ستوري پرېشـــانه

دا څوک دي پـَل وهي د یوۀ زخمي دوینو څـاڅکو
کۀ کوم ناقد مې شماري غـزل توري پرېشانه

لوګي پۀ څېر لمبې پۀ سر اخیستی دی جاوېداوس
لۀ لاسه د بېلتـــون شي ډېـــر سرزوري پرېشانه

# زۀ نۀ ومه

چې يې ښکلا چې يې ماڼۍ وۀ هلته زۀ نۀ ومه
چې ميخانه وه او سپوږمۍ وه هلته زه‌نۀ ومه

اوس سرپناو بالښت چېرې شوګير واخيستمه
چې سپين مړوند زلفو کېږدۍ وه هلته زه نۀ ومه

تقدير ، نصيب‌نه ګيلمَن يمه لۀ دې سبب چې
کومه شپه د زندګۍ وه هلته زۀ نۀومه

PUKHTO NET
پښتو ډاټ نېټ

ټينګې تيارې لارې اوږدې دي داخو زما قسمت،چې
سپينه سپوږمۍ د غرۀ پۀ ژۍ وه هلته زۀ نۀومه

ها د يوالي مورچه ماته ده زګېرويو ژوند دی
چې د پښتون کلکه څوکۍ وه هلته زۀ نۀ ومه

اوس به‌د وير او درد پۀ غېږکې جاوېد څۀ وليکي
چې ښه فضا د شاعرۍ وه هلته زۀ نۀ ومه

# غزل

عشق بلا ته بله بلا هیڅ نۀ دی
دا کار د طبیب او مُلا هیڅ نۀ دی

ستا له بیلتون وروسته را مالومه شوه
دا ژوند او نړۍ غیر له تا هیڅ نۀ دی

زړۀ مې وه یو کور د پسرلو خو اوس
پاتې لۀ کنډر نه سېوا هیڅ نۀ دی

سر دښمن ته هم ما دعا کړې خو
ستا لکه چې زده بې ښېرا هیڅ نۀ دی

زړۀ چې اوسېدۀ هلته اوس غم اوسي
راکړه لا سزا دا سزا هیڅ نۀ دی

تۀ نۀ یې یاد ستا جاوېد ملتیا کړې تل
څوک وایي تنها دی تنها هیڅ نۀ دی

# اختر د مساپرو

لۀ فکره خیال چاپېر وي لـراو بَر د مساپرو
پۀ سترګو يې وي پـروت د اوښکـو غـر د مساپرو

خندا يې لباسي وي کلـه ستا او کلـه خپل درد
پرې پټ کـړي داسې څۀ دی مُقدر د مساپرو

چې کب لۀ اوبو لېرې شي نو څرنګــه تړپيږي
همداسې لۀ هېـواد لېري اختـــر د مساپرو

اختر وي هرڅۀ د بـروي خو دی زړۀ کې وي نيولی
ليـــدلای ما خــزان ، خــزان نظر د مساپرو

عيد ورځ وي خو نصيب کې يې د خپل کور محفل نۀ وي
عيد ورځ کې هم غمونو وي تت لمر د مساپرو

د هيلو اور کې سوځي د بېلتون بنديخـانه کـــې
آه ! څومـره دی دردناکــه دا اختـــر د مساپرو

جاوېد لاس پۀ دعا يم نور څۀ نشته بې وَسي ده
اختر کـړه خـدايه ښاد او بختـور د مساپرو

PUKHTO.NET

# پاتې وي

کیسې نیمګړې به دا ستا د تلهٔ را تلهٔ پاتې وي
نور به مې څهٔ ترخهٔ ، خوارۀ لهٔ ژوندانهٔ پاتې وي

زۀ به لهٔ کومې څهٔ هوَس او هیلې وکړم لهٔ ستا
هیلې وي هلته چې ګوګل کې د چا زړۀ پاتې وي

چې ستا محفل او ستا رخسار وي دا نصیب چېرې زما
زما خو نصیب کې میکده او شمعه مړۀ پاتې وي

دا چې ناڅاپه ستا د نوم سره په څړیکو راشي
په دغه ټپ کې به پټ ستا د یاد لا څهٔ پاتې وي

دلته لهٔ څوک نه څوک خبر چې څوک، څوک ښهٔ پېژني
دلته څوک ، څوک نه یو څوک هر بل څوک نه ښهٔ پاتې وي

یا به دا خلک وي ناپوهان یا به جاوېد پوه نهٔ وي
یا به د واک وارې پهٔ لاس کې دکوم غلهٔ پاتې وي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# مهٔ وېرېږه

خاوند اختيار کې يم درکړې نوره مهٔ وېرېږه
روحه راځه د خپل کالبوت لهٔ کوره مه وېرېږه

پهٔ رب توکل کړه،رب رضا کړه چې لهٔ هرڅهٔ هسک دی
جوړ ابراهيم شه او د وخت لهٔ اوره مهٔ وېرېږه

د مينې تخم چې ګرو نو سرهٔ ګلان به اخلو
پس لهٔ مرګي هم ګوره بيا لهٔ ګوره مهٔ وېرېږه

د اسماعيل غوندې يې ښکل کړه بيا پرې ځان وتړه
د ازموينښت د زولانو لهٔ شوره مهٔ وېرېږه

پهٔ محبت کې غم او درد خلک خپلهٔ ګټه شماري
خسارې نهٔ شماري د عشق څوک ګوره مهٔ وېرېږه

خپلې کعبې ساتنه خپله الله کړي جاوېده!
د محمود فيل او ابرهه لهٔ زوره مهٔ وېرېږه

# ستورګې

جاوېده څۀ پوښتې مې چې دې شپې وي څومره ستوګې
ها يوه سپينه سپوږمۍ ده دې تيارې وي څومره ستوګې

کۀ يار مهرباني وکړي يو څۀ پۀ ما پېرزو کړي
ګني د څو شپېو د مېلمنې وي څومره ستوګې

زموږ مينې پسې د عالم ستوګې داسې لکه
زوم ، ناوې پسې ټولې خېلخانې وي څومره ستوګې

يار هر قدم پۀ خيال اخله يو لور رقيب خو نۀ دی
خدا ! نورې د نړۍ به راپسې وي څومره ستوګې

PUKHTO.NET

چې ځې پۀ اور مې واړوې سپرلیه څۀ خبر یــې
هر غړی د بدن مې چې راځې وي څومره سترګې

نظر کې به دې واخلي څلور قُله پۀ ځان چف کـړه
خبر نۀ یــې ماهــره او پـخې وي څومره سترګې

رقیب پۀ وَس کې نۀ دي بېلــول د مین زړونو
رقیب به ځي سر ټیټی کۀ یـې سرې وي څومره سترګې

PUKHTOONET
پښتو کتاب نټ

یادونه یې د زړۀ کوګې کې پاتې شي دوي لاړشي
یا الله ! د څنو ،څنو خو خوږې وي څومره سترګې

د کب غوندې به ړدې ، ړدې ګوري خو هیڅ نۀ کړي
د سوی پۀ شان رڼې، رڼې بیدې وي څومره سترګې

جــاوېده د اشنا سترګو تـه نۀ رسي هیڅ سترګې
کۀ تورې وي ،کۀ شنې وي او کۀ مړې وي څومره سترګې

# زندګي ده

بې ستا زندګي څۀ ده کۀ څو چنده زندګي ده
يار تنده زندګــي ده او بې خــونده زندګــي ده

غېرستا پۀ ژوندون څۀ کړم ماته ژوند مۀ غواړه ښکليه!
مرض او غم پـه خپلــه بنـد لـۀ بنده زندګي ده

خلک ژوند کړي خپلو منځ کې خو زۀ خپلولۀ لاس وسوم
بس اوښکې دي او زۀ يم هـآ ژاړنـده زنـدګي ده

چې ډېر مې زړۀ تۀ تېر و هم هاغۀ مې زړۀ سوری کړ
ګيلــه لۀ چـا پۀ زهـرو مې لـــژنده زندګي ده

سوال يې څۀ ځواب يې څۀ چې ژوند نه جاوېد تېر شو
سوال ځـواب پۀ خپلــه دا څرګنــده زندګي ده

# ترمنځ

يو تـهٔ به وې بل زهٔ شپـه وه کـراره زموږ تـرمنځ
دا چا ! د نفرت تېره کـــړه لـهٔ لاره زموږ تـر منځ

څو ځلـې راغلم لاړمـه خمـاره اشـــناڅهٔ شـي ؟
داځل که رقيب پاتــې شـــي خمــاره زموږ ترمنځ

د يــوهٔ بوټــي ګلان يوو تـوپير نـهٔ لـرو که نـهٔ وي
راځه چې سره کېـږدو بيا هنـــداره زموږ تـرمنځ

PUKHTO.NET

نهٔ زهٔ لهٔ ويره خلاص شوم او نهٔ تهٔ لهٔ ژړا خلاص شوې
دا څـــهٔ تکــه راپرېوتلـــه يـــاره زموږ تـرمنځ

زهٔ تهٔ يې او تهٔ زهٔ يم لاس چې مات شي ترګرېوان ځي
راځه نور غمازان چې کړو سنګساره زموږ ترمنځ

را يادې هغه ژمنې د اسلام ،مينـــې ،پښتو کړه
د غـرهٔ لهٔ ژی د کلـي تـرڅنـــاره زموږ تـرمنځ

تـرڅـو بـه کـړو جاوېده پهٔ يوهٔ بل باندې نيوکـې
ترڅو به غمازان ګرځي سرشـــاره زموږ تـرمنځ

# کلیمه

دا کوم زخمي مارغۀ وې پۀ نغمه کې کلیمه
کۀ ستا مین دا ستا وې ټوله شپه کې کلیمه

نن بیا ستا د وصال تندې اخیستی و سرشار و
نن بیا یې وې جومات او میکده کې کلیمه

پېړي غوندې پهٔ خنګ ترېنه رقیب لاړه کې تېرشو
ستاعشق کې ستامجنون وې ستا کوڅه کې کلیمه

PUKHTO.NET
پښتو دابُدا ځای

جنت کې ځوانان اوسي د بُډا ځای جنت نۀ دی
راځئ ! ځوانانو ووایوو جذبه کې کلیمه

مین زړۀ کې د یار نوم لکه وي ورېمه په ګل کې
زاهد ، څۀ ورته لیکې مقبره کې کلیمه

سپېڅلې کلیمه پۀ کلیمه کې کلیمه ده
کلیمه ! جاوېد جوړه کلیمه کې کلیمه

# کرار، کرار

غـــم دې دیـــد لـهٔ سترګـــو وړي کـــرار،کـــرار
وربېځ لکـــه چـــې ستوري خـــوري کـرار،کـــرار

وخـت کړې داسې وراني نخښې ستـا لکـه
رنـګ چـــې د نکـــریزو ځـــي کـــرار ، کـــرار

ورو، ورو دې ځـان ونغښت لکـه ونه چـې
سیوري خپـل راټـول کانـدي کـرار،کــــرار

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

داسـې کـــه بـــاران پرې تـــل د اوښکـــو وي
ورانـــه بـــه جونـګـــړه شـــي کـــرار، کـــرار

نـــاوې د سپرلـــي ژوند په ازغـــو کـــړي کـــه
اوښکـــه پـــه ښـــو اوســـي کـــرار،کـــرار

هـر پل د تقدیـر مې غـم او درد جـــاوېـــد
وینـې راتـــه روي ښـــې کـــرار،کـــرار

# تار

چې ښکاره شي سپېده چاود هغه تکسپين تار
نور نو لېرې کړه لۀ تندې دا ګونځين تار

ژڼو عشق کې داسې غاړه ورکړه لکه
د دار پړی وي د چاد لونګين تار

سپينې اوښکې کړه نور او چې هسې نۀ چې
ګلاب مړاوې نۀ کړې دغه شبنمين تار

PUKHTO.NET

پروا مه کړه غمازان به داسې غوڅ کړم
لکه غوڅ چې ورښمين تار کړې د وړين تار

ګل په لمر زۀ ستا خندا باندې غوړېږم
که په شونډو اشنا راوړې لږ لمرين تار

که د مينې په ننګ مړ نۀ شوم محبوبې
کفن مه راته ګنډه په زرزرين تار

تۀ خو يو ځلې جاوېد ياد کړه بېغورې
چې درځم که نۀ درځمه په ازغين تار

# زمانې

د اوس په شان مې ياد شي نۀ شوې هېرې زمانې
که څومو تر منځ تېرې شولې ډېرې زمانې

په منځ کې لکه ګل شوم پاڼې، پاڼې غبرلۀ ستانه
ازغو په څېر لۀ شاوخوا مې چاپېرې زمانې

نۀ هاغه به باچا وو نۀ زۀ به وم ملنګ
که چېرې بيا راتللی هاغه تېرې زمانې

دا ښه ده چې راتلونکی په تيارۀ کې وي ګني
دمخه به ډېر مړۀ وو ستا لۀ وېرې زمانې

زۀ څۀ وايم دی څۀ کړي خدا چې څۀ وربندې وشول
پۀ ژوند باندې کړم سترې دې اخېرې زمانې

د ځړي غوندې ببرته رازرغون به شم جاوېد که
خدای راوستې پر ما باندې هم چېرې زمانې

# یاران

یاران ښکلي مې بندارکې مړاوې کېږي
ربه ! څانګې په څنار کې مړاوې کېږي

ښکاري، ښکار ته سترګې برندې کړي بیا ښکارکړي
چې د یار سترګې مې ښکار کړي مړاوې کېږي

بلوي بیا ماښامې هیلو ډیوې څوک؟
خدایه ! بیا مو روڼ سهار کې مړاوې کېږي

د خزان یاد مې نن بیا په زړګي راغی
غوټۍ شونډې يې چې څار کې مړاوې کېږي

غرو سرې یم ښار ته نهٔ ځمه جاوېده
غرني ګلان په ښار کې مړاوې کېږي

PUKHTO.NET
پښتو کتابتون

# الوځي

دا ستا نري ، نري خيالــونه مې په زړۀ الــوځي
کۀ بيا د چا د سر سيلۍ په ګل راغۀ الوځــي

ستا په خوږو نغمو عادت يم تللی نۀ شم اشــنا
کفس کۀ مات شي هم ،خو ځينې مرغان نۀ الــوځي

ستا په تلۀ راشي يو لښکــر غمونـه مـه ځـه رانـه
غم ، درد او وير مې لۀ محفل ستا پۀ راتلۀ الوځي

غم ته چې لاره پيدا نۀ شي ستا خوښي دومره شه
ددې دعا کوترې زموږ لـۀ سمې غـــــرۀ الوځي

دما د زړۀ کوډلـه ورانـه نـۀ کـړې وايـه ورتـه
ياره ! تېرې ، تېرې چاړې دې لۀ کاتۀ الوځي

د غزلونو پۀ خوږو بيتو چې موږ کـړم جـاوېد
د غزلـــونو ښاپېرۍ مې پۀ بانـــډه الوځي

PUKHTO.NET

# بد رنګ

اشناټول يو خيل نۀ ياست ستاخپلوان هم شته بدرنګ
باطن کې ګلان ګوره څۀ ګلان هم شته بد رنګ

يو څوک لۀ غمه ژاړي او يو خاندي اوښکې توی کړي
باران دي نېکمرغی، شته، خو باران هم شته بدرنګ

ظاهر ښکلا د سترګو غولېدل وي که هوښيار وې
پۀ پېغلو کې بدرنګې شته ځوانان هم شته بدرنګ

راتلل دې هسې ډېرنۀ وۀ چې راغلې هم غُصه وې
تۀاو خدای لۀ داسې وخت نه بل دوران هم شته بدرنګ؟

هېرېږي خو ورانېږي نه تړاو زموږ د مينې
کۀ څو مو ترمنځ غټ، غټ رقيبان هم شته بدرنګ

پۀ وريږو کې دي کاڼي فکر ډېر ساته جاوېده!
منم پوهان به وي خو جاهلان هم شته بدرنګ

# ژوندون

ښه پهٔ ټُول راغلــــی سم دغــه ژوندون دی
بــــې تولــــې خپلــه عــالم دغه ژوندون دی

ژوند لـهٔ مـــرګ څخـه د څـو شېبو ده تېښته
خدايګــو مينــې ته هم کم دغه ژوندون دی

چــې د ګل لهٔ پاڼــې ورغړي او پرېوځــي
داســـې څاڅکــی د شبنم دغه ژوندون دی

لکــه بحـر په څپو سپين ځګ وي داســـې
پام چـــې ډک لـهٔ خَطـرو هم دغه ژوندون دی

بختور دي خلک پهٔ مينـه ، عشق يـې لمانځي
خــو موږ جــوړ وير او مـاتم دغـه ژوندون دی

دلتــه هـــره ورځ وَژنـــې دي جـــاوېده
ځکـــه درد او سترګــو نَم دغه ژوندون دی

PUKHTOO.NET
پښتو کتاب تون

# څۀ خلک

ستا عشق کې شعر په اوښکو ساقي ووينځي څۀ خلک
پيدا نوی ماشوم څنګ دستي ووينځي څۀ خلک

په ډکو سترګو ستا د کوڅې خاورې ،غنې ښکل کړي
شبنم غونـدې ګلاب اوازغي ووينځي څۀ خلک

د غم پرانګان بې دارې ټوله شپه خو پـه سهار کې
رسوا نۀ شي لۀ دې دار تندي ووينځي څۀ خلک

ژونـدون شو ډېر بې رحمه غېر لۀ تاکه تۀ رانغلې
لاسونه به لۀ دې زنـدګـي ووينځي څۀ خلک

ځواب د هريوۀ سوال به يې جاوېده شي حاصل
دمخ په ځای که چېرې زړګي ووينځي څۀ خلک

# غزل

يوچا، ترې چا د حال پوښتنه کړه وژړېده
سپوږمۍ يې په اوبو کې وليده وژړېده

د يار په شنه لمن کې يې ژوند خپل لکه ورياد شو
چې شنۀ چمن کې ګل ته ودرېده وژړېده

بېګا يې د ژوند ستورى بېلتانۀ په کنډو راغى
بېګا بيا تورو شپو کې دردېده وژړېده

ګويا د غمو منځ کې يې د ځان ننداره وکړه
پېروتې چې لۀ ګل نه تاوېده وژړېده

وختونو د بېلتون يې داسې کښ په زړګي تېر و
چې يار ته مخامخ هم ژړېده وژړېده

جاوېده هغه ګل و چې لاس ورورې دې ځان نغاړي
ها داسې ټولېده او شرمېده وژړېده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# غزل

د وخت په سرو چاړو او په غبرګو ن باندې ویده شم
په غم کې را بیدار شم او خفګون باندې ویده شم

ژوندون مه راته غواړئ ژوند دردونه دي او دریغه
د تل خوب په پالنګ چې لږ سکون باندې ویده شم

کفس چې مات کړي نه ځي څه مرغۍ هسې زه هم
ستا خړ کورګي ترڅنګ سر په زنګون باندې ویده شم

خلک زما د ماتېدو په ننداره ناست دي او زه
د شنه کاڼي په څېر یې بس مړستون باندې ویده شم

هاغه په تلوکې وې چې بس خوبوکې مې لیدای شې
ماوې که وعده کړې چې ټول ژوندون باندې ویده شم

خوښي دې ستا نصیب شي اې جاوېده ! خبر که زه
جنون کې راوېښېږم او جنون باندې ویده شم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

# غزل

دا ستوري د اسمان شماري کرار شي ترېنه هېر
که ستا يو ،يو احسان شماري خوشمارشي ترېنه هېر

د زاڼو غوندې چېرې يې چې ښه وي هلته ژوند کړي
څۀ خلق شته چې هېواد د نيکۀ،پلارشي ترېنه هېر

طوطي په څېر د بل خبرې تل تکراره وي خود
کفس دانه چې خوري څوک خپل کردارشي ترېنه هېر

سړی څنګه ماتېږي خوار ته څۀ پته لۀ هاغۀ
ماښام چې څۀ څيز وخوري ترسهار شي ترېنه هېر

څۀ زړۀ لړوې لارې لاروي سره هغوی خو
چې ورسي منزل ته لارې يار شي ترېنه هېر

جاوېده خاموشي هم د وَيلو يو صورت دی
ځان پوه کړه خبر اِقرار او که انکار شي ترېنه هېر

# راځي

د غم شپېو کې اوښکې لۀ ارمان سره راځي
رڼۀ ستوري د شپې لۀ خوا اسمان سره راځي

د ژوند بڼ کې مې هیلې څۀ کرلې کۀ خبر وَی
چې دا ځلې سپرلی به لۀ خزان سره راځي

اشنا د رقیب اوري زما پۀ نۀ خبره پوخ وي
یوه ورځ به مې د ځان شخړه لۀ ځان سره راځي

ژړا ، فریاد نه خوند اخلي غماز خو خبر نۀ دی
چې تَندر هم لۀ تالنده باران سره راځي

آګا نۀ وم چې داسې بې پښتو او میني خلک به
اې وخته ستا لۀ وخت او لۀ دوران سره راځي

چینه د غرۀ لۀ ډډې رابهیږي کۀ جاوېده
دا زما اوښکې څپانده لۀ ګرېوان سره راځي

# غزل

سوی غبر د کوم شپانهٔ دی خدا پهٔ څهٔ دی
که دې غرهٔ ژړی کې مارغهٔ دی خدا پهٔ څهٔ دی
لکه غرق کړي د اوبو څپې څوک هسې
زړهٔ دِ مَا په ډوبېدهٔ دی خدا پهٔ څهٔ دی
په سپرلي کې ګُل شي پاڼې ، پاڼې کټ مټ
نَری دَرْز مې کړی زړهٔ دی خدا په څهٔ دی
وخت که غوڅ نهٔ کړي وخت تُوره به يې غوڅ کړي
په ژوندون لکه ده مړهٔ دی خدا په څهٔ دی
وخت هر څهٔ بدل بدل کړهٔ اې جاوېده!
داسې خوب د يار بسهٔ نهٔ دی خدا په څهٔ دی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## غزل

جفا ، خطا او ستا د زړهٔ لهٔ زنګه لرم کرکه
چاوې؟ چې زهٔ دا ستا لهٔ ښکلي رنګه لرم کرکه
زهٔ چېرې شراب ، بنګ چېرې په هوش پښتون سړی وم
غم ، درد پرې وژنم خدايګو چې لهٔ بنګه لرم کرکه
زما او ستا ترمنځه دغه يو توپير دی ښکليه !
چې تهٔ لهٔ محبت او زهٔ لهٔ جنګه لرم کرکه
د زړونو واټن کم شي لهٔ احساس سره محسوس کړه
غېږ ستا د پاچاهۍ لهٔ سور پالنګه لرم کرکه
ګل بوټي کې ښايسته وي ،بوټی ګل باندې ښايسته وي
څوک وايي؟ چې جاوېد دا ستا لهٔ څنګه لرم کرکه

# ګلان

د زړهٔ بڼ مې راسپړي يار ليدو سره ګلان
خنديږي لکه لمر له پلوشو سره ګلان

دادوه مې رقيبان دي اخېر زړهٔ رانه يونهٔ سي
د شپې په غېږ کې ستوري يارکمځو سره ګلان

نړۍ خوښي مې داسې ده خاموشه ژوندکې لکه
چې شنهٔ او را زرغون شي هديرو سره ګلان

باک نشته که يونيم شي پاڼې.پاڼې خو ډېر نور
غوړېږي د باران شېبو ، شېبو سره ګلان

خير خلک دې وغږېږي چې ازغي لري ګلونه
خو زهٔ خوښ يم راځي دې لهٔ ازغوسره ګلان

سپرلي نهٔ دی جاوېده ښکلا ويارِ مې داشنادی
راتلوکې سيمه ګل کړي او وړي تلوسره ګلان

# په ژړا

ګیله لۀ چا ما خپله ژوند پیل کړی په ژړا
اوس روړېدی مې دا زړۀ دی میراتمړی په ژړا

نړی ډېرو غمونو مې نمجنې نۀ کړې سترګې
خوستا وربځ دیادونوکړم هرغړی په ژړا

خندا هرې خبرې ته،خبرې ستا خنداکې
همدغو آداګانو دې کړم ستړی په ژړا

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ماشوم په ژړا ورسي هدف ته او اسمان هم
ژوندَی کړي سپېرو خاورو لاندې ځړی په ژړا

مات لوښ قدر نشته خو مات زړۀ کې رب اوسیږي
څوک وایي؟ چې ښۀ نۀ ښکاري وګړی په ژړا

( تاوېلې چې تیارې راشي ګوښۀ ځای کې چُپ کېنه )
جاوېد هم غرۀ لمنې ته کور وړی په ژړا

# نن شپه

اشنا لهٔ زړګي تاؤ داستا غمونه دي نن شپه
ګل پاڼې، پاڼې نهٔ کړي سخت بادونه دي نن شپه

د وخت په ګردشو کې دا غورځېږم او پا څېږم
که ستا د تورو زلفو کږلېچونه دي نن شپه

د عقل، پوهې، فکر یاران یو، یو رانه لاړل
تالاوالا رڼا شوم تورتمونه دي نن شپه

غم اوښکې غواړي ستا خو رسوايي دې اوښکې وځښې
خبر وکړې بيا سيلۍ او ځراغونه دي نن شپه

کرار، کرار وربمې د پسرلي راځي او تم، تم
روان د سروګلونو کاروانونه دي نن شپه

کړې ستورو داړې جينګې هم سپوږمۍ مې خوري جاوېده
بلا، بلا يې جوړ راته ځانونه دي نن شپه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# کرښه خونۀ یم

څۀ ! سالنګ ددنګ کُوتل کرښه خونۀ یم
راشه یوځل ستا هرځل کرښه خونۀ یم

خلک مې ولې ورانېدۀ غواړي سوالوکې
د تقدیر او د اجل کرښه خونۀ یم

چې هرخم کې یې ورمې د سپرلي خاندي
ستا د زلفو د وَل وَل کرښه خونۀیم

په شېبه کې جوړ سپرلی شېبه خزان شي
ستا د تندې د بورجل کرښه خونۀ یم

زۀ وصال د مَین زړونو یم جاوېده !
د خېبر او د کابَل کرښه خونۀ یم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

# غزل

تم زخمي مارغهٔ غوندې کړم وير په ځای
سخت د سترګو لړي يې نظير په ځای

مينې او حيا پَيرو زړهٔ ونيوهٔ
څهٔ په يوه خندا يې کړ اسير په ځای

ما ترېنه تصوير غوښت يار شوخي ګورئ
ګل يې را لېږلی د تصوير په ځای

څهٔ خلق مينه نهٔ پېژني ځکه چې
مخ ، لاسونه وينځي د ضمير په ځای

ما وې د نړۍ جنت کوم ځای بولي
خوست ته يې مخ واړوه کشمير په ځای

مهٔ چيړه جاوېده مين زړهٔ عذر
نهٔ شي کېناستی مُريد د پير په ځای

# راځــه

راوړې نو سوله راوړه تورو شرنګ نه مې زړۀ موړ دی
نګاره !نور لۀ وینو او لۀ جنګ نه مې زړۀ موړ دی

راځـه چې رقیب ورته پـه یوۀ غـږ زۀ او تۀ !
راځه لۀ دې شیطان لۀ دې بې ننګ نه مې زړۀ موړ دی

PUKHTO.NET

ریښتیا ده احمق نۀ یم چې پۀ هر خبر سوګند کـړم
یو لور نۀ دی لۀ هرلور لۀ هرڅنګ نه مې زړۀ موړدی

د ژبې پَتي زړۀ دی دې کې مینې تخم کښت کړه
زرغون کړي عشق پۀ یوۀ بل لۀ غور ځنګ نه مې زړه موړدی

بېلتون ستا شرابي ،بنګي جاوېد کړمه ګني
شراب نه مې زړۀ موړ دی اولۀ بنګ نه مې زړۀ موړدی

# پرېږده لاړشم ساقي

بلا، بلا او توره شپه ده پرېږده لاړ شم ساقي
د غرو په چول کې لاړ اوږده ده پرېږده لاړ شم ساقي

خوشبو لهٔ ګل ځنې روانه مخه يې څوک نيوﺁی شي
عمرهم داسې يوه وږمه ده پرېږده لاړشم ساقي

اوس د شرابو پيمانو کې دې زور پاتې نهٔ دی
نوره نو دا غوره او ښهٔ ده پرېږده لاړ شم ساقي

په هنداره کې ځان ته ګوري خو خبره نهٔ ده
د هندارې ولټه ګيسه ده پرېږده لاړشم ساقي

محل مې ځوان کړ خو ځواني لاړه ځواني هم راکړه
زړهٔ مې د وران کنډر ډيوه ده پرېږده لاړشم ساقي

هاغې څنګ پرېښوم وېلې نشم رسوايي ده، ګني
خبره سمه او کره ده پرېږده لاړشم ساقي

د زمانې ژبه جاوېد ليدلې څکه يې نن
په خولګۍ هرخبر ګيله ده پرېږده لاړ شم ساقي

# غزل

لېرې که څو لاړ لا قریب دومره دی
تګ د عشق په لاره عجیب دومره دی

نۀ ومه خبر جنت دوزخ لري
ستا د مخ مشال کې ترتیب دومره دی

څۀ رنګ چې توپیر مسلم کافر کې وي
فرق تر منځ زما او رقیب دومره دی

یوګام کې لۀ یوۀ بل وړاندې وروسته شي
زمونږ د لېوانیانو نصیب دومره دی

اوس ربښتیني مینه غرو کې هم نشته
اوس خو زور اخیستی صلیب دومره دی

هر یو اوس نیوکه په جاوېد کوي
اوس خیالي جاوېد ستا غریب دومره دی

PUKHTOON.NET
پښتو ډاټ نېټ

# غزل

لۀ ښکلو نه يې ښکلې بل به ستا پۀ رقم نۀ وي
تو د لمراو کرک سپوږمۍ به دې تشبې لره سم نۀ وي

خلک پوښتي څۀ ته ورته يې ښکلا ده زۀ ورغبرګ شم
يار دا رنګه ښايست لري چې هيڅ په کې کم نۀ وي

که تۀ مې يو ځل او پوښتې د غم چې ستا څۀ غم دی
آه ! پاتې به مې زړۀ کې بيا د هيڅ کيسې غم نۀ وي

چې ستا سره به زما مينه وي څومره نۀ پوهېږم
خو دا وايم چې نۀ وې تۀ نو ژوند به مې هم نۀ وي

نن پرېږده ستا وصال کې اوښکې تويې شي دلبره
څۀ اوښکې د خوښۍ وي هره اوښکه ماتم نۀ وي

لا اوس مو ترمنځ يوه شپه ده لاس را، را پخلا شه
جاويده ! بيا به پاتې وخت، فرصت د قدم نۀ وي

# تویږي

یو ځل نهٔ دی خو دا هر ځله تویږي
خدا ! چې اوښکې مازدیګر ځله تویږي
لا ثنا' یې د نامې نهٔ ده پهٔ اوښکو
چې یې نوم سره اکثر خپله تویږي
دغه ګل ته د ټوپک ضرورت نهٔ شته
دا د سترګو پهٔ خنجر وله تویږي
پهٔ محفل ستا اعتراض نهٔ دی زړګیه
دا زما پهٔ مقدر ګله تویږي
سمندر کې شي جاوېده توی نهرونه
پهٔ ویالو کې سمندر کله تویږي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## ژوند چل

څوک آرام بولي څوک کوکې د ژوند چل
شي ډېر ګران موندهٔ ملوکې د ژوند چل
په پالنګ هر څوک خوب کړی شي مېږهٔ هاغه
چې یې زده چاړې په څوکې د ژوندچل
کارغهٔ نهٔ یم بَد غندمه کارغان بولي
ګند خوراک څنډ د مښوکې د ژوند چل
زهٔ کتاب غوندې معلم لرم راښیي
بې امسا او بې متروکې د ژوند چل
زړونو غلهٔ دي ښکلو نور څهٔ زده جاوېده
بې ډاکې او بې لهٔ شوکې د ژوند چل

# غزل

خزانه وي وران ځايونو کې دننه
رب اوسيږي ماتو زړونو کې دننه

بړبوکۍ غوندې يودم چې په ګډا شوم
يو څوک ځېل مې کړې رګونو کې دننه

مين زړه ترم په صبر لکه ساتي
لېواني څوک زنځيرونو کې دننه

عشق مې داسې زړۀ کې خپور لکه رګونه
وي خپارۀ پښتو سروګلونو کې دننه

د ژوند ناوې مې غمازو په کوڅۀ کې
لکه ستورې وي ګردونو کې دننه

دا ژړا، ژړا شپبوکې خاندم يا خو
غوټۍ ګل شوه ورښتونو کې دننه

په لحد کې د يار نوم څۀ ورته ليکۍ
يار نامه وي مين زړونو کې دننه

هيڅ بلا نړۍ کې نشته دی جاوېده
که بلا مړه کړو ځانونو کې دننه

PUKHTO.NET
پښتو ډيجيټل لائبرېري

# په سرونو

دا واورې سپينې اوري دنګو غرونو په سرونو
که سپين کفن غوړېږي د ګلونو په سرونو

هر پل يې د مرګ ډار وي دغه ژوند داسې دی لکه
وي سپين ځګ د لوی بحر د موجونو په سرونو

مېوې ونه مېوې پسې سوډر لۀ ببخه کاږي
همداسې غليم ږدي مو پښې سرونو په سرونو

قانو دی لکه تُوره که دې تُورې څوک واکدار شي
د بل په سر يې ږدي ، نۀ د ځانونو په سرونو

دروغ واورې پۀ څېر وي چې څو رغړي لا غټېږي
راځئ ! چې نوره نۀ خبرو لوزونو په سرونو

راځئ ! چې مينه ، مينه شوو ښکلا صفت پيدا کړو
ښکلا او سپېڅلتيا راج کړي د زړونو په سرونو

هيڅکله به مات نۀ شوو که رښتيا جاوېده ! لاړ شوو
د پلار او د نيکۀ د پښو پَلونو په سرونو

سوډر : ښناور

# دنیاګۍ کې

څوک هسک د عشق په بام وي په دغه دنیاګۍ کې
آرام به یې حرام وي په دغه دنیاګۍ کې

ځلېږي لکه ستوري تیارو کې تر سهار چې
چا څښلی مینې جام وي په دغه دنیاګۍ کې

سهار باده راولوځه بیدۀ ګلان کړه ویښ
ترڅو به تور ماښام وي په دغه دنیاګۍ کې

دا جام او دا ستونه دا سپوږمۍ د تصور
ساقي چېرې مُدام وي په دنیاګۍ کې

مودو نه انتظار یم راوړه ساقي همدمه
کوم جام کۀ زما په نام وي په دغه دنیاګۍ کې

یا ستا ناپروایي ده یا خو اوښکو کې خوښي
یا زما عقل به خام وي په دغه دنیاګۍ کې

جاوېد کۀ مړ شي اوس باک نشته مرګی پور دی
ژوندی به یې کلام وي په دغه دنیاګۍ کې

# سیوری

لکه نري وېښتان یوځای شي، شي د کار سیوری
داسې یادونه مې په زړهٔ کوي د یار سیوری

غېرلهٔ یار ژوند به وي څهٔ ژوند ، ژوند مې تېرېږي داسې
لکه یتیم چې وي بایللی د مور،پلار سیوری

صحراوي لارسخته ګرمي کړي خود وریاد سړي ته
د وروستئ وني او تر شا پاتې چنار سیوری

چُپه چُپتیا ده په ژوندون د قبر مړي ښکاري
ګویا درندې بلا راغلی دی په ښار سیوری

خدایه ،خیر وکړې پښتنې مینې زوال مې نهٔ شي
د لېونیو و بړبوکیوو د غبار سیوری

جاوېد پهٔ ځوانه ځواني مړاوَی بېلتانهٔ څپو کړ
لکه سپرلي کې خزان جوړکړي په ګلزارسیوری

PUKHTO.NET
پښتو کتابونو ډیجیټل دفتر

# ټکنی

د زړۀ لـۀ درده ورک شمه زړګی دی ټکنـی
اشنا لۀ چاؤدو شونډو مې زګېروَی دی ټکنـی

باطن ښکلا يې ګورمـه ظاهر ښکلا تغيرکـړي
څوک وايي چې لۀ ښکلو دا سړی دی ټکنـی

د زړۀ بڼ به مې څنګه نۀ ژېړېږي راته وايه
خزان موده اوږده شوه او سپرلـی دی ټکنـی

قيام کې مې يې تۀ، رکوع، کې تۀ ،سجده کې تۀ يې
د نورو لـۀ سجدو نـه مې تنـدی دی ټکنـی

چـې مينه د نړۍ ښکلا، رڼا ده نـو بيا ولـې؟
جـاوېد دمـا لـۀ مينـې ټکنـی دی ټکنـی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# مورې

دما په ژوند او حال آګا وې مورې
دما ويارۀ دما رښا وې مورې

چې پَل اخيست مې هر قدم ته دما
تا بسم الله او تا ثنا وې مورې

په کوچنيتوب کې چې رنځور به شومه
راته به ناسته تر سبا وې مورې

اوس چېرې داسې د طبيعت ښښتنۀ
راته به تل لاس په دعا وې مورې

اوس هغه بخت او وخت دې چېرې مورې
زما د ژوندون ښايست، ښکلا وې مورې

ستا د قدم خاورې لۀ کومې کړم اوس
تۀ مې جنت تۀ مې دنيا وې مورې

ستا په حرواح درود سلام وايمه
جاوېد ته غوره لۀ هرچاوې وې مورې

# ماشومتوب

کیسې راته یادېږي بند په بند د ماشومتوب
ربنتیا ښکلې نړۍ ده په څو چندد ماشومتوب

یوڅو خبرې ډېرې خوندورې دي او غوارم
چې کرمه یې ځواني ته خپل پیوند د ماشومتوب

یوداچې وکړي جنګ په درنګ شیبه کې بیا پخلاشي
په زړهٔ کې کینه نهٔ ساتل چلند د ماشومتوب

لهٔ لوټوکورګي جوړکړي اوببرته یې ژر وران کړي
په خاورو کې لوبېږي خړپړ ژوند د ماشومتوب

هرڅهٔ په ژړا غواړي ،شته ځیزنهٔ ساتي بل وخت ته
هم هغه سات یې وخوري ژوند خُرسَند دماشومتوب

هرچاته خاندي ګوري په هر زړهٔ کې ځای پیدا کړي
جاوېده وخت دی ښهٔ په رب سوګند د ماشومتوب

PUKHTO.NET
پښتو کتاب تون

# غزل

ژونده د شپو ،ورځو شمار څۀ کړې ددې شمار به څۀ وي
د غم ځپلو ماښام څۀ وي او سهار به څۀ وي

غم او درد دومره چې هر رګ کې مې محشر ولاړ دی
خو سکوت داسې چې د مرګ نور انتظار به څۀ وي

زۀ لا د چا بېلتون، وصال په موسمو کې اوسم
زۀ څۀ خبر يم چې د وخت خزان ، بهار به څۀ وي

ژوند ،مرګ مې دواړه چا په لاس کې زۀ بندي پروت يمه
ها ژړوي ها خندوي مې زما اختيار څۀ به وي

جاوېد لا وړاندې چا د تورو زلفو دار دی زنده
وخته سل ځل خوېږې په دار کړه نوستا دار به څۀ وي

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نټ

# غزل

نن دې کـــړم اشنـــا ،اشنـــا ژړا ســره
خوښ دې کـــړ رقیب لـــهٔ دې آدا ســره
زړهٔ به مـــې و روڼ ستا پهٔ خنـــدا داســـې
ګـــل لکـــه د پرخـــې ورېــــدا سره
اوس دې هـــاغه مینـــه او خنـــدا چېـــرې
سیوري غونـــدې تېر مـــې شـــې لهٔ خوا سره
پوه نهٔ وم موسم غونـــدې بدلېـــږې چـــې
ستـــا حُسن سلـــوک هم لـــهٔ هـــوا سره
ستا مینـــې راویښ کـــړهٔ رقیبان ګنـــې
څـــهٔ مـــې و لـــهٔ دې تـــورې بـــلا سره
څـــهٔ ګلان چـــې زیړ شـــي لهٔ باران داسې
څـــهٔ کسان خفـــه ستـــا عشق کـــې ما سره
بـــې نخښې نیول ګـــوزار سم نهٔ لګـــي
بـــې فکـــره څهٔ کـــړهٔ مل پېښمانتیا سره
توره شپه کـــې سپینه سپوږمـــۍ داسې مې
پاتـــې شو ارمـــان وختـــه لـــهٔ ستـــا سره
درېغـــه لېونـــی جـــاوېـد پـــهٔ دښتـــو شم
تـــورې کېـــږدۍ خـونـد کـوي صحـــرا ســره

## غزل

نـۀ پوښتې لۀ مات زړۀ داکیسې چې تېرې خپله وي
تـۀ پوښتې لـۀ هاغۀ چاچې ټولـــې هېرې خپلـه وي
ډار نۀ کړي لۀ مرګ ،جنګ دغه توري لۀ ما پاتې وو
دا بـلا ،بلا خبرې غـــرو کــې ډېـرې خپلـــه وي
ډېرو خولې کړې جینګې خاوره ګل ورته سکروټې شي
ډ ېر راشي په زورکـې بيا اخيستې وېرې خپلــه وي
سوال کـوي چې اوړ ماشوم يـې څنګــه ډګـر وګاټۀ
دومــره ورتــه وايم ازغـو څوکــې تېرې خپلـه وي
ډېـره موده وروسته پــه دې لاره تېرېـدم جاوېد
ماوې ، سلام وکـړه دا اشنا کۀ چېـرې خپلــه وي

### مربع (څلور کوري)

دا هغه دوه بیتونه یا څلور نیم بیتي دي چې ،که هرنیم بیتي په څلورو خونو ووېشلی شي شپاړس(١٦) کورونه کېږي ،کۀ ددې شپاړسو کورونو هر یوکور لۀ ښیۍ خوانه ولولئ او که لۀ پاسه يې ښکته لورته لولی یو رنګه دوه بیتونه یا څلور مسرې لوستل کیږي.بېلګه يې داد:

| ١ | ٢ | ٣ | ٤ |
|---|---|---|---|
| خدايـه | ڼــرى | ڼـــرى | باران دى |
| ڼـرى | درديـږي | زړګى مې | وران دى |
| ڼـــرى | زړګى مې | غــم د | جانان دى |
| باران دى | وران دى | جانان دى | ځـان دى |

## اوسيږي

لا اوس هم ستا بورجل او ستا يادونو کې اوسيږي
سپوږمۍ د څورلسمې مابنامونو کې اوسيږي
اوس هم دا ستا د زلفو هتکړو سره لوبيږي
څوک وايي؟ چې خوار شو زنځيرونو کې اوسيږي
منم چې هرڅۀ مات شي بې ارزښته شي خو خلکو
لوی ذات د دوو نړيوو ماتو زړونو کې اوسيږي
ورتېرشئ هريو رګ يې په ژوندون ورپسې پرېکړئ
خيالونه پښتانۀ يې په رګونو کې اوسيږي
جاوېد هم پخواني جاوېد اوس نۀ دی پاتې شوی
غُجرګل د منګلو هسکو غرونو کې اوسيږي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## ماتې شولې

محفل شولوټ مَستو شرابو پيالۍ ماتې شولې
ها د نغماتو او جذباتو مانۍ ماتې شولې
نن بيا شوه مړه هيلو ډيوه په سوځېدو، سوځېدو
نن بيا لۀ ستورو ډکو شپو نه لړۍ ماتې شولې
دا ګل کړ مړاوَی د بې وخته ورښتونو
جَړی که په نازک مخ يې د اوښکو غوټۍ ماتې شولې
ټينګې تيارې دي نۀ کوم ستوری شته نۀ شته دی څراغ
څوک دي چې وايي؟ د تيارو شپو زندۍ ماتې شولې
آه ! څۀ غوښتنې وې د مينې د آداب جاوېده
چې د ګيلو پۀ ځای پۀ شونډو ځارۍ ماتې شولې

# خوږه یاره

یوځل راشهٔ خدای لهٔ پاره خوږه یاره
مرګ دی ښهٔ لهٔ انتظاره خوږه یاره

رقیبانو غوندې هر کنډۀ کې ناست وي
غمو ستا کړم ناقراره خوږه یاره

د ژوند بڼ کې د زړګي مړاوې غوټۍ مې
ستا راتللو څاري لاره خوږه یاره

د کرم وربخې دې نهٔ راځي څهٔ وکړم
د زړګي درد کړم ناچاره خوږه یاره

پوهه، عقل مې یو،یو شول رانه لاړل
تنها پاتې شومه یاره خوږه یاره

چاپېریال کړي پرتا ویاړ تل دې زرغون وې
زما د هیلو دنګ چناره خوږه یاره

اوس لهٔ جیګو خونو پرېوتمه اوسم
لاندې خونو کې بیماره خوږه یاره

کلی کور مازدیګري به جاوېد څهٔ کړي
غېر لهٔ تانه اې باداره خوږه یار

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ


Pareshana
Stoore
Gen. Trad. & Cont.
AL-MUSTAQILA
ARYANA